

**ژورنال ملی زبان و ادبیات**

قابل دسترسی در ویب سایت: https://njll.keu-journals.com

# د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د اوب شننه

**پوهنمل تاج محمد رحیمي**

**عضو کادر علمی پوهنتون پنجشیر**

taj4753@gmail.com

دریافت: ۱۴۰۴ / ۰۸/۱۸

پذیرش: ۱۴۰۴ / ۰۹/۱۰

نشر: ۱۴۰۵ / ۰۱/۰۵

**لنډیز**

ولسي شاعري د هر ملت خپله پانګه وي او د هماغه ملتونو نمایندګي کوي، د یوې ټولنې ولسي شاعري د بلې سره ورته والی او توپیرونه لري، دا چې د ولسي شاعرۍ لمن ډېره پراخه ده، په دې مقاله کې د ننګرهار د ځینو ولسي شاعرانو په اشعارو کې د اوب برخه تر بحث لاندې نیول شوې ده، د دې ترڅنګ دغه څېړنه د ننګرهار د ولسي شاعرۍ د مانا جوړونې پر بنسټ ولاړه ده او هڅه کوي د «اوب / سیاق او سباق» علمي او فرهنګي مفهومونه د ولسي شاعرۍ د ژبني جوړښت، فرهنګي بنسټونو او موقعیتي شرایطو له مخې وڅېړي. د څېړنې اساسي ستونزه دا ده چې تر اوسه د ننګرهار د ولسي شاعرۍ په چوکاټ کې د اوبونو پر مفهومي او سمبولیکو اړخونو ځانګړې او منظمې څېړنې نه دي شوي او دا عنصر تر ډېره په عمومي ډول یاد شوی، کومه ژوره تحلیلي څېړنه پرې نه ده شوې. له همدې امله د اوبونو د مانیزو، ټولنیزو اشارو او کلتوري بار روښانتیا یوه تشه ګڼل کېږي. د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د ولسي شاعرۍ له لارې د ننګرهار د خلکو فکري، ټولنیز او کلتوري لیدلوری ځرګندوي او ښیي چې اوب په دغه شاعرۍ کې اوب ځرنګه ځرګندېږي.دغه څېړنه د ولسي ادب د مطالعاتو په برخه کې علمي تشه ډکوي او راتلونکو څېړنو ته بنسټ برابروي. په دې څېړنه کې له تشریحي ـ تحلیلي تګلارې ځخه کار اخیستل شوی دی. د څېړنې مواد د ننګرهار د ولسي شاعرۍ له بېلابېلو بنو لکه چاربیتو او ولسي سندرو ځخه راټول شوي او د محتوا د شننې له لارې یې د اوبونو مفهومي او هنري کاروني ارزول شوې دي.

**کلمات کلیدی:**

- اوب
- فرهنګي اوب
- موقعیتي اوب
- ولسي شاعري
- ننګرهار
- ژبنی اوب
- مانا جوړونه

Copyright © 2026 Author(s). Published by National Journal of Language and Literature (NJLL).

Online ISSN: 3[illegible]80[illegible]23[illegible]5 - Print ISSN: 30[illegible]0-237[illegible]

Ketabton.com

National Journal of Language and Literature

ketabton.com - The Digital Library



NJLL
National Journal of Language and Literature

National Journal of Language and Literature
Available at: https://njll.keu-journals.com



# An Analysis of Contexts in Nangarhar Folk Poetry

**Taj Mohammad Rahimi**
**Faculty Member at Panjshir University**
taj4753@gmail.com

Receive: 2025/11/09
Accept: 2025/12/01
Publish: 2026/03/25

**Keywords:**

- Ob
- Cultural Context
- Situational Context
- Folk Poetry
- Nangarhar
- Linguistic Context
- Meaning Construction

**Abstract**

Folk poetry is an invaluable cultural asset of every nation and serves as a true representation of its people. While the folk poetry of different societies exhibits both similarities and differences, its scope remains remarkably broad. This article focuses on examining the concept of (context) in the verses of selected folk poets from Nangarhar. In addition, the study is grounded in meaning construction within Nangarhar's folk poetry and seeks to explore the scholarly and cultural concepts of context by analyzing the linguistic structures, cultural foundations, and situational conditions of folk poetry. The central problem of this research lies in the fact that, to date, no systematic or specialized studies have been conducted on the conceptual and symbolic dimensions of » context« within the framework of Nangarhar's folk poetry. This element has largely been mentioned only in a general manner, without undergoing in-depth analytical examination. Consequently, a significant gap exists in clarifying its semantic implications, social references, and cultural connotations. The significance of this study lies in its ability to reveal the intellectual, social, and cultural perspectives of the people of Nangarhar through folk poetry and to demonstrate how » context«is manifested within this poetic tradition. Moreover, the research contributes to filling a scholarly gap in the field of folk literature studies and provides a foundation for future research. This study adopts a descriptive–analytical methodology. The research data have been collected from various forms of Nangarhar folk poetry, including »charbaiti« and folk songs, and the conceptual and artistic uses of » context«have been examined through content analysis.

Copyright © 2026 Author(s). Published by National Journal of Language and Literature (NJLL).

Online ISSN: 3080-2385 - Print ISSN: 3080-2377

ketabton.com - The Digital Library



**بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ**

**اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ، نَبِيِّنَا وَرَسُولِنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَىٰ آلِهِ وَصَحْبِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ، أَمَّا بَعْدُ.**

## سریزه

د ژبپوهنې د معاصر بحثونو له مهمو مفاهیمو څخه یو هم (اوب / Context ) دی، چې د متن د مانا، جوړښت او تفسیر بنسټیزه ستنه جوړوي. اوب د ژبې او چاپېریال ترمنځ هغه پُل دی، چې له لارې یې معنا رامنځته کېږي او وینا د خپل واقعي سیاق او فرهنګي چاپېریال په رڼا کې تشرېح کوي. په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د «ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د اوب شننه» د علمي او نظري اصولو پر بنسټ وڅېړل شي، څو څرګنده شي، چې د ولسي شاعرۍ ژبه یوازې د احساس او عاطفې څرګندونه نه، بلکې د یوې ټولنې د فرهنګي، موقعیتي او ټولنیزو واقعیتونو ژبنۍ ننداره هم ده. د ننګرهار ولسي شاعرۍ ته که له ژبپوهنیزه او فرهنګي اړخه وکتل شي، نو ښکاري چې دا شاعرانه میراث د خلکو د ټولنیزو باورونو، دودونو، د ژوند د چاپېریال، مذهب، اقتصادي حالت او تاریخي تجربو ژوندي انځورونه وړاندې کوي. د ولسي شاعرۍ شاعر د خپلې ټولنې راټوکېدلی او د خپلې ټولنې د ویناوو او تجربو استازی دی؛ له همدې امله د ده شعر د ژبې له چوکاټه بهر د ژوند له فرهنګي او موقعیتي اوب سره نغښتی وي. په دې څېړنه کې به د «اوب» مفهوم له ژبپوهنیز او نظریاتي پلوه وڅېړل شي، او د هالېډې د چاروالې نظریې( Functional (Systemic Linguistics ) پر بنسټ به د ژبني، موقعیتي او فرهنګي اوب ترمنځ اړیکې تشریح شي. د دې څېړنې علمي اهمیت په دې کې دی، چې د ولسي شاعرۍ ژبه د یوې ټولنې د تفکر، احساس او فرهنګي ارزښتونو ژبنۍ هنداره ده. له همدې امله د اوب شننه نه یوازې د شعر د ژبني جوړښت د درک لپاره مهمه ده، بلکې د هغه ټولنیز او فرهنګي بستر د پېژندنې لپاره هم بنسټیز ارزښت لري.

## د مسالې بیان

د ولسي شاعرۍ د مانا تحلیل تر ډېره یوازې د الفاظو تر کچې کېږي، خو د اوب (context) له نظره د دغو متونو شننه له پامه غورځېدلې ده. دا څېړنه دغه تشه ډکوي او هڅه کوي وښيي چې د ننګرهار ولسي شاعري نه یوازې د ژبې د ښکلا استازولي کوي، بلکې د فرهنګي، ټولنیز او موقعیتي اوب له لارې د ولس د فکر، احساس او ژوند انعکاس هم دی.

## د څېړنې موخه

۱: د اوب یا سیاق پېژندنه.

۲: د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د ژبني، موقعیتي او فرهنګي اوب د رول څېړل.

## د څېړنې پوښتنې

۱: د اوب (context) څه ته ویل کېږي؟

۲: د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې څه ډول اوبونه یاcontext موندلی شو ؟

ketabton.com - The Digital Library



## د څېړنې اهمیت

دغه څېړنه له څو اړخونو مهمه ده. له علمي پلوه دا مرسته کوي چې د "اوب" د مفکورې نظري او عملي ارزښت روښانه شي، له فرهنګي اړخه د ننګرهار د ولسي شاعرۍ کلتوري بڼې څرګندوي، او له ژبني پلوه دا ښيي چې د مانا جوړونه یوازې د ژبې د لغوي سطحې پورې محدوده نه ده، بلکې د چاپېریال او فرهنګي شرایطو محصول ده.

## د څېړنې شالید

د «اوب» اصطلاح د ژبپوهنې په تاریخ کې د اریستارخوس له وختونو څخه تر هالیډې پورې اوږده علمي مخینه لري. د ژبني او ناژبني اوب ترمنځ د اړیکې نظریه د مالینوفسکي، کت فورد او هالیډي له کارونو څخه سرچینه اخلي. په پښتو ادبیاتو کې د «اوب» مفهوم تر ډېره د معاصرې ژبپوهنې له مخې مطرح شوی، خو د ولسي شاعرۍ په تحلیل کې تر اوسه پوره نه ده څېړل شوې. د ننګرهار ولسي شاعري د کلتوري او ټولنیز اوب یوه روښانه بېلګه ده، ځکه چې د دې سیمې ولسي شاعران د خپل فرهنګ، مذهب، دودونو او ټولنیزو ارزښتونو انعکاس د شعر له لارې کوي. د اوب «context » په اړه په بېلابېلو کتابونو کې بحثونه شوي، د بېلګې په توګه سمیع الله شاهد په خپل کتاب (د هالیډې د چاروالې نظریې پر بنسټ د اوب څېړنه) چې د ماسترۍ تیزس یې هم دی او په .(۱۴۰۳ل) کال د سمون خپرندویه ټولنې لخوا خپور شوی، د اوبونو په اړه یې هر اړخیز بحثونه کړي دي او تر څنګ یې د پیر محمد کاروان په یوه غزل کې د فرهنګي اوب شننه هم کړې ده، خو تر کومه چې د ننګرهار و لسي شاعرۍ او په هغې کې د اوبونو شننه ده داسې کومه موضوع یې په اثر کې نه لیدل کېږي. د دې ترڅنګ اجمل ښکلي په خپل کتاب ( د ژبپوهنې نظریې) چې په ( ۱۴۰۱ لمریز) کال د پکتوس خپرندویه ټولنې لخوا په کابل کې خپور شوی، د اوب او سیاق په اړه لنډکی بحث لري، خو د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د اوب خبره په کې نه لېدل کېږي. همدارنګه راحېلې حمیدزۍ هم په خپل کتاب ( ګذار از مقوله و میزان به دستور نقش ګرای ناظم مند هالیدی) کې چې په (۱۳۹۸ لمریز) د کابلستان خپرندویه ټولنې لخوا خپور شوی، د اوب په اړه لنډ بحثونه لري د دې مقالې اړوند په کې نور څه نشته. دا چې دا مقاله د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د اوب شننه ده، ما په مشخص ډول تر دې عنوان لاندې په نورو مقالو او کتابونو کې په دې اړه څه ونه موندل.

## د څېړنې کړنلاره ( مېتود)

په دې څېړنه کې « توصیفي –تحلیلي مېتود» کارول شوی دی. د معلوماتو د راټولولو لپاره د لومړنیو سرچینو (ولسي شعرونو ) او دوهیم لاس علمي سرچینو ( کتابونو، مقالو او تیزسونو) څخه ګټه اخیستل شوې ده او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## د څېړنې موندنې

مخکې له دې، چې د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د اوب ځیرنه وکړو، اړینه ده، چې د اوب په اړه معلومات ولرو. د اوب کلمه، که څه هم په نورو ژبو کې زیاته کارېدلې، خو په پښتو ژبه کې عامه شوې نده. اوب د اوبدلو په مانا دئ. په متن کې دننه، له متنه بهر او متنو پورې اړوند اړیکو راټولو ته اوب وایي. د جملې چاپیریال ته هم اوب ویل کېږي، دا په دې معنا هغه چاپیریال، چې جمله پکې ویل شوې او د جملې شاوخوا پرته ده. په دري کې بافت او په انګلیسي کې ورته کنتکس ویل کېږي. د اوب اصطلاح اوږده مخینه لري. د دې اصطلاح کارونه د سکندریانو په ځانګړي ډول (اریستار خوس) او په متن کې بیا قیاس ته ورګرځي. داسې تر نظر راځي، چې اوب د ننۍ ورځې د کارونې پر بنسټ د آګدن او

ketabton.com - The Digital Library



ریچارډ کتا ( د مانا مانا) څخه را پورته شوئ. په لومړیو کې اوب یوازې ژبني چاپیریال یا د جملو سیاق او سباق ته ویل کې ده، چې جمله کې به د کلمو له اوډونه پیدا کېده. د اوب په اړه ډېر تعریفونه شوي دي، چې ځینو ته یې اشاره کوو: «اوب د مسلمانانو په فرهنګ کې تقریباً د شان نزول، اسباب نزول، مقام او په فارسي ادبیاتو کې مقتضای حال بلل کېږي. اوب خپله یو بل متن دی او هغه پټ متن، چې له ښکاره متن سره ملګرتیا کوي، اوب هغه پل دئ، چې د ژبې او له ژبې بهر ساحو ترمنځ اړیکه ټینګوي. » (شاهد، ۱۴۰۲ل، ۲۱ )

اجمل ښکلی بیا اوب داسې راپېژني «قرینه په دوو برخو ویشل کېږي، یو په ژبه کې دننه، چې سیاق ورته وایي او بل له ژبې بهر، چې قرینه ورته وایي. د دې دواړو دنده د مانا په لېږد او پوهاوي کې مرسته ده» مثلا: احمد خړ شو. د دې جملې په مانا د پښتني فرهنګ په رڼا کې پوهېدای شو، چې دلته « خړ » د خاکستري نه، بلکې خجالت مانا لري. ( ښکلی، ۱۴۰۱ل، ۹۰ )

راحله حمیدزی په خپل کتاب ( گذار از مقوله و میزان به دستور نقش گرای نظام مند هالیدی) کې داسې وایي: « په لومړیو کې اوب یواځې په ژبني چاپیریال پورې اړه لرله، خو ورسته دا ساحه پراخه شوه او نورو برخو ته یې هم مخه کړه. په ژبپوهنه کې د لومړي ځل لپاره « کت فورد» د اوب تجزیه وکړه.» ( حمیدزی، ۱۳۹۸ه ش، ۱۱۴) مخکې له دې، چې د فرهنګي اوب په اړه بحث وکړو، لومړی به فرهنګ وپېژنو. «فرهنګ یوه زړه اریایی مرکبه کلمه ده، چې د پوهې او علم په معنا ده. ریښه یې له اوستا سره تړلې او له اوستایي ژبې څخه راوتلې کلمه ده. فرهنګ دانش، ادب،علم، معرفت،ښوونه او روزنه، د یو قوم او ملت علمي او بدوي اثارو ته فرهنګ ویل کېږي.»( هېوادمل، ۱۴۰۲ل، ۱۵)

فرهنګ، چې د یوې ټولنې مادي او معنوي شتمني ګڼل کېږي او د یو ولس ټول هغه ارزښتونه پکې شامل دي، چې د دوی له افکارو، دودونو، رسم او رواج، مذهب، عقیدو، باورونو، کرکو، انګېرنو او ګډ ټولنیز ژوند په اوږدو کې له مختلفو خواو څخه رامنځته شوي وي. د یوې ټولنې په داسې اصطلاحاتو هغه وخت پوهېدلای شو، چې د هغې ټولنې له فرهنګ سره اشنایي ولرو، د مانا پوهنې له مخې ورته فرهنګي اوب وایي. اوب د مانا په لېږد کې خپله ونډه لري. یا د متن پوهېدلو لپاره موږ ته دا لار پرانیځي، چې له یادې جملې یا متن څخه د هغې ټولنې چاپېریال او فرهنګ مطابق او سمه مانا واخلو لکه:

چې تا پګړۍ پر سر کړه کړه

زه به چار ګل په پوزه نېغ ودرومه

«زموږ په فرهنګ کې پګړۍ نارینه په سروي او چار ګل ښځې په پوزه کوي، په دې متن کې د پګړۍ اړیکه له نارینه سره او د چارګل اړیکه له ښځینه سره ده. له دغو اړیکو پوهېږو چې په لومړۍ مسره کې د ( تا) نومځری نارینه لپاره کارول شوې او نارینه ته اشاره ده او دویمه مسره کې د ( زه) نومځری د ښځینه لپاره کارول شوې او ښځینه ته اشاره ده. د دې اړیکو په پوهېدو کې راسره فرهنګي اوب مرسته کوي.» (شاهد، ۱۴۰۲ل، ۵۴-۵۲ ) هر ټولنه په خپله فرهنګي حوزه کې ژوند کوي، کله داسې هم کېږي، له یوې حوزې بلې ته انتقال شي. د انسانانو کلتور جامد نه بلکې متحرک دئ. دا په دې مانا، چې کلتورونه یا فرهنګونه بدلیدی یا شریکېدلئ شي. په دې اړه روسنبیرج وایي« په ( ۱۹۷۹م) کال کې چین د خپل هېواد د نفوسو د محدودولو لپاره یوه پالیسي جوړه کړه، چې هره جوړه به یو ماشوم زېږوي، که سرغړونه یې وکړه، نو جرمانه به ورکوي، چې همدې تګلارې د نفوسو د کنټرول په اړه د چین کلتور بدل کړ. که څه هم د چین فرهنګ له نورې نړۍ سره توپیر لري، خو په دې کار سره یې په نړۍ کې یو نوی فرهنګ رامنځته کړ.» ( روسنبیرج، ۲۰۱۱ل، ۳۰ )

ketabton.com - The Digital Library



په اشعارو کې اوب په بنستیزه توګه، له دوو لارو کارولی شو. یو دا، چې شاعر کوم اوب خپل شعر ته ټاکي، ښايي هغه ستاینه وي. دویم دا، چې ښايي شاعر کوم اوب خپل شعر ته ټاکي، د بل څه په اړه خبرې وي. په ټولیز ډول شاعر کولای شي، د یوې صحنې له مخې د پېښې او ځای یا هره پدیده د فیزیکي، ټولنېزې، کلتوري، چاپیریال او وخت په چوکاټ کې د شعري اوب په مټ راونغاړي. سمیع الله شاهد په خپل تیزس *« د هالیډی د چاروالې نظریې پر بنسټ د اوب څېړنه کې د کوچیش نظر راخیستئ، چې وايي : « شاعر په ټولیز ډول کولای ، په شعر کې ستاینه وکړي او یا هغه څیزونه وکاروي، چې لوستونکي ته د ستاینې ماناوې ورکړي. دې ته (کووچش) دویم اوب وايي.»* ( شاهد، ۱۴۰۲ل، ۷۱ )

د شاعر د اوب لپاره د بدن ځانګړي غړي، انګېزې، فیزیکي، بیولوژیکي، ذهني او عواطف په ټولیزه توګه بېلابېل موقعیتونه دي، چې کېدای شي، دا ټول د شاعر په شعر خپل اغېز وکړي، د شاعر فیزیکي وضعیت په ځانګړي ډول د شاعر روغتیا کېدائ شي، چې د ده په لیکوالۍ او د استعارو په نوښت د کاروني لامل وګرځي. د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د ژبني اوب ترڅنګ د موقعیتي او فرهنګي اوب څرکونه هم څرګند دي. پر یوه ژبه پوهاوی یوازې دا نه دی، چې ویی زیرمه یې ولرو او پر ترکیب یې پوه شو، څکه یوه جمله چې په یوه مناسب موقعیت کې نه وي واقع شوې، تر هغې مانا او مفهوم نه ورکوي. موږ د خپل موقعیت له مخې جملې ټاکو او له خپل مخاطب سره یې د عمر، جنسیت، ټولنیز موقعیت او نژدېوالي پر بنسټ پرې خبرې کوو او متن په درک کې مهم نقش لوبوي لکه: دا یې دوم کور دی. « کور» د اوسېدو کور په مانا. « کور» د قبر په مانا. د شاعر د اوب لپاره د بدن ځانګړي غړي، انګېزې، ذهني، بیولوژیکي، عواطف او داسې نور بېلابېل موقعیتونه دي، چې ښايي دا ټول د شاعر په شعر خپل اغېز پرېږدي. د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د ژبني اوب تر څنګ فرهنګي او موقعیتي اوب څرکونه هم څرګند دي. دلته به داسې بېلګې وړاندې کړو، چې بېلابېل اوبونه په کې څرګند شي او دا ملعومه شي، چې د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې هم د اوبونو څرکونه شته.

لوبه

تورې مې څنې نېشه دار مې تعویزونه

خلک ماته لېونی وايي

***

زه د مستی نه په هوا ځم        د نازه ډکه بې پروا ځم

د خیاله ړدمه په لنډۍ زنه خالونه

خلک ماته لیونی وايي

***

چې عطر پورې په وربل کړم        د مینې اور په عاشق بل کړم

په زړه یې جوړ شي د وصال سوي داغونه

خلک ماته لېونی وايي

ketabton.com - The Digital Library



***

چې مې په نيم نظر کتلي     بېرته په حال نه دي راغلي

ناز او مکېز مې بلوي په زړه اورونه

خلک ماته لېونی وايي

***

کار مې هنر ناز و ادا دی     زه د جهان جهان زما دی

بينا ته وايم چې مې شرحه کړي نازونه

خلک ماته لېونی وايي

(بينا، ۱۳۹۱ ل: ۹۰۳)

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ت | و | ر | ې | م | ې | ځ | ڼ | ې | ن | ې | ش | ه | د | ا | ر | م | ې | ت | ع | و | ي | ز | و | ن | ه | | | | | | | | | | |
| خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ې | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ز | ه | د | م | س | ت | ی | ن | ه | پ | ه | ه | و | ا | ځ | م | د | ن | ا | ز | ه | ړ | ک | ه | ب | ې | پ | ر | و | ا | ځ | م | | | | |
| د | خ | ي | ا | ل | ه | ړ | د | م | ه | پ | ه | ل | ن | ړ | ی | ز | ن | ه | خ | ا | ل | و | ن | ه | | | | | | | | | | | |
| خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ې | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| چ | ې | ع | ط | ر | پ | و | ر | ې | پ | ه | و | ر | ب | ل | ک | ړ | د | م | ې | ن | ې | ا | و | ر | پ | ه | ع | ا | ش | ق | ب | ل | ک | ړ | م |
| پ | ز | ړ | ه | ي | ې | ج | و | ړ | ش | ي | د | و | ص | ا | ل | س | و | ي | د | ا | غ | و | ن | ه | | | | | | | | | | | |
| خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ې | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| چ | ې | م | ې | پ | ه | ن | ي | م | ن | ظ | ر | ک | ت | ل | ي | ب | ې | ر | ت | ه | پ | ه | ح | ا | ل | ن | ه | د | ي | ر | ا | غ | ل | ي | |
| ن | ا | ز | ا | و | م | ک | ې | ز | م | ې | ب | ل | و | ي | پ | ه | ز | ړ | ه | ا | و | ر | و | ن | ه | | | | | | | | | | |
| خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ې | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ک | ا | ر | م | ې | ه | ن | ر | ن | ا | ز | و | ا | د | ا | د | ی | ز | ه | د | ج | ه | ا | ن | ج | ه | ا | ن | ز | م | ا | د | ی | | | |
| ب | ي | ن | ا | ت | ه | و | ا | ي | م | چ | ې | م | ې | ش | ر | ح | ه | ک | ړ | ي | ن | ا | ز | و | ن | ه | | | | | | | | | |
| خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ې | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

***جدول ۱، د ژبني اوب شنه***

په پورته جدول کې وينو ټول غږونه په يوازې بڼه مانا نه لري، خو شاعر دا غږونه په غږيز ژبني اوب کې د خواناستي محور په مرسته سره يو ځای کړي، چې په ترتيب سره يې مورفيمونه، کلمې، جملې او متن جوړ کړی او مانا يې پيدا کړې، لکه لاندې جدول کې.

ketabton.com - The Digital Library



| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ♠ | ت | و | ر | ي | م | ي | غ | ڼ | ي | ن | ي | ش | ه | د | ا | ر | م | ي | ت | ع | و | ي | ز | و | ن | ه | | | |
| ✉ | توري | مي | ختي | نښه | دار | مي | تعويزونه |
| ☼ | توري | ختي | نښه دار | تعويزونه |
| ❄ | توري مي ختي | نښه دار مي تعويزونه |
| ⊙ | توري مي ختي نښه دار مي تعويزونه |
| ♠ | خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ي | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | |
| ✉ | خلک | ما | ته | لیونی |
| ☼ | خلک | ما | وایي | لیونی |
| ❄ | خلک ما ته | وایي لیونی |
| ⊙ | خلک راته وایي لیونی |
| ♠ | ز | ه | د | م | س | ت | ی | ن | ه | پ | ه | ه | و | ا | خ | م | د | ن | ا | ز | ه | د | ک | ه | ب | ي | پ | ر | و | ا | خ | م |
| ✉ | زه | د | مستی | نه | په | هوا | خم | د | تازه | ډکه | بي | پروا | خم |
| ☼ | زه | مستی | هوا | خم | تازه | ډکه | پروا | خم |
| ❄ | زه مستی هوا خم | تازه ډکه پروا خم |
| ⊙ | زه د مستی نه په هوا خم – د تازه ډکه بي پروا خم |
| ♠ | د | خ | ي | ا | ل | ه | ږ | د | م | ه | پ | ه | ل | ن | ډ | ی | ز | ن | ه | خ | ا | ل | و | ن | ه | | | | | | | |
| ✉ | د | خیاله | پردمه | په | لنډی | زنه | خالونه |
| ☼ | خیاله | پردمه | لنډی | زنه | خالونه |
| ❄ | د خیاله | پردمه | په لنډی | زنه خالونه |
| ⊙ | د خیاله پردمه په لنډی زنه خالونه |
| ♠ | خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ي | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | |
| ✉ | خلک | ما | ته | وایي | لیوني |
| ☼ | خلک | ما | وایي | لیوني |
| ❄ | خلک ماته | وایي لیوني |
| ⊙ | خلک ماته وایي لیوني |
| ♠ | چ | ي | ع | ط | ر | پ | و | ر | ي | پ | ه | و | ر | ب | ل | ک | ږ | د | م | ي | ن | ي | ا | و | ر | پ | ه | ع | ا | ش | ق | ب | ل | ک | ږ | م |
| ✉ | چي | عطر | پوري | په | وربل | کړم | د | میني | اور | په | عاشق | بل | کړم |
| ☼ | عطر | پوري | | وربل | | کړم | میني | اور | عاشق | بل | کړم |
| ❄ | عطرپوري په اوربل | د میني اور په عاشق بل |
| ⊙ | چي عطر پوري په اوربل کړم – د میني اور په عاشق بل کړم |
| ♠ | ن | ا | ز | ا | و | م | ک | ي | ز | م | ي | ب | ل | و | ي | پ | ه | ز | ړ | ه | ا | و | ر | و | ن | ه | | | | | | | | | | |
| ✉ | ناز | او | مکېز | مي | بلوي | په | زړه | اورونه |
| ☼ | ناز | مکېز | مي | بلوي | زړه | اورونه |
| ❄ | ناز مکېز مي | بلوي زړه اورونه |
| ⊙ | ناز او مکېز مي بلوي په زړه اورونه |
| ♠ | خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ي | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ✉ | خلک | ما | ته | لیونی | وایي |
| ☼ | خلک | ما | لیونی | وایي |
| ❄ | خلک ما | لیونی وایي |

ketabton.com - The Digital Library



| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ⊙ | خلک ماته لیونی وایي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ♦ | ک | ا | ر | م | ي | ه | ن | ر | ن | ا | ز | و | ا | د | ا | د | ی | ز | ه | د | ج | ه | ا | ن | ج | ه | ا | ن | ز | م | ا | د | ی | | | |
| ✎ | کار | مي | هنر | ناز | و | ادا | دی | زه | د | جهان | جهان | زما | دی | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ☼ | کار | مي | هنر ناز | ادا | زه جهان | جهان زما | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ❄ | کار مي هنر ناز ادا | زه جهان جهان زما | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ⊙ | کار مي هنر ناز ادا دی –زه د جهان جهان زما دی | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ♦ | ب | ي | ن | ا | ت | ه | و | ا | ي | م | چ | ي | م | ي | ش | ر | ح | ه | ک | ړ | ي | ن | ا | ز | و | ن | ه | | | | | | | | | |
| ✎ | بيا | ته | وايم | چي | مي | شرحه | کړي | نازونه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ☼ | بيا | وايم | شرحه | شرحه کړي | نازونه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ❄ | بيا ته وايم | شرحه کړي نازونه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ⊙ | بيا ته وايم چي مي شرحه کړي نازونه | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ♦ | خ | ل | ک | م | ا | ت | ه | ل | ي | و | ن | ی | و | ا | ي | ي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ✎ | خلک | ما | ته | وايي | ليونی | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ☼ | خلک | ما | ليونی | وايي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ❄ | خلک ما | ليونی وايي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ⊙ | خلک ماته ليونی وايي | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

♦ غږیز ژبني اوب ✎ مورفیمیز ژبني اوب ☼ وییز ژبني اوب ❄ نحوي ژبني اوب ⊙ مانیز ژبني اوب

جدول۲، د ژبني اوب شنه

په پورته جدول کې غږونه په یوازې ځان کومه مانا نه لري، خو په غږیز ژبني اوب کې غږونه د خواناستۍ محور په مرسته داسې سره یوځای شوي، چې خپلواک او نا خپلواک مورفیمونه يې جوړ کړي او مانا يې پیدا کړې ده، چې د همدې خوا ناستی په مرسته ماناوې خپرېږي او غږیز ژبنی اوب يې رامنځته کړئ دی.

**ب: په پورته ولسي شعر کې صرفي ژبنی اوب:** په صرفي ژبني اوب کې خپلواک او ناخپلواک مورفیمونه د خواناستۍ محور پر مټ داسې سره یو ځای کېږي، چې بې مانا مورفیمونه هم مانا پیدا کوي.

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مورفیمونه | خپلواک مورفیمونه | تورې | مې | خښې | نېشه | دار | مې | تعویزونه | خلک | ما | لیونی | وایي |
| | | زه | مستۍ | هوا | ځم | نازه | ډکه | پروا | ځم | | | |
| | | خیاله | ږدمه | لنډۍ | زنه | خالونه | خلک | ما | لیونی | | | |
| | | عطر | وربل | کړم | مینې | اور | عاشق | بل | کړم | | | |
| | | زړه | جوړ | وصال | سوي | داغونه | خلک | ما | لېونی | | | |
| | | مې | نیم | نظر | کتلي | بېرته | حال | راغلي | | | | |

ketabton.com - The Digital Library



| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ناز | مکېز | مې | بلوي | زړه | اورونه | خلک | ما | لېونی | وايي | |
| | | کار | مې | هنر | ساز | ادا | | زه | جهان | جهان | زما | |
| | | بینا | وایم | مې | شرحه | کړي | نازونه | خلک | ما | لېونی | | |
| | | ته | وايي | د | نه | په | د | بې | د | په | پورې | چې |
| | ناخپلواک | يې | شي | د | په | د | ته | په | نه | دي | شي | وايي |
| | | او | په | وايي | ته | چې | وايي | دي | دی | دی | وايي | د |

**جدول۳، په ولسي شعر کې خپلواک او ناخپلوک مورفیمونه**

په پورتني ولسيــ شــعر کې خپلواک مورفیمونه مانا لرونکي او کلمې دي او ناخپلواک مورفیمونه مانا نلري، خپلواک مورفیمونه هغه دي چې په مســتقل یا خپلواک ډول مانا لري او ناخپلواک مورفیمونه هغه دي، چې په خپلواک ډول کومه مانا نه لري. شـاعر د صرفي ژبني اوب په مرســته د خواناســتی اړیکې په محور کې ټول مورفیمونه داسې سره اوبدلي، چې بې مانا مورفیمونه هم مفهوم پیدا کوي او د خپلواکو مورفیمونو سره یې د مانا په لېږد کې پوره مرسته کړې ده.

(د): د پورته ولسي- شعر په دویم، څلورم او پنځم، بیتونو کې د «د» مورفیم شپږ ځله کارولی، چې په ټولو ځایونو کې یې د اضـافت ترکیبونه جوړ کړي او یو ډول دنده پرمخ وړي. «د» د دویم بیت په لومړی په دویمه مســره کې د « مســتی» خپلواک مورفیم اړیکه له « هوا» سره ترکیب جوړ کړی، د « میني اور» خپلواک مورفیم اړیکه د «د» په مرسـته دعاشـق سره اضـافي ترکیب جوړوي، همدارنګه په دریمه مسرـه کې «د» د اضـافت توري په شـکل راغلی دی. «د» چې یو ناخپلواک مورفیم دی او په یوازې ځان کومه مانا نه لري، په پورته ولسي- شـعر کې د صرفي ژبني اوب په مرسته له خپلواکو مورفیمونو سره یو ځای د نورو دندو ترڅنګ د اضافت مورفیم په توګه هم دنده ترسره کړې او مانا یې پیدا کړې ده.

«**او**» یو ناخپلواک مورفیم دی، چې دوه کلیمې یا دوه جملې سره نښلــوي څو یوه څرګنده مانا ترې رامنځته شي، په پورته ولسي- شـعر کې د «**او**» ناخپلواک مورفیم په مرسته د څلورم بیت په دویمه مسره کې (ناز او مکېز) دواړه سره نښلوي او بیت ته یې روانوالی او مانا وکړې ده.

«**په، کې**» دا دواړه هم ناخپلواک مورفیمونه دي، یو یې سربل او بل یې اوسـتربل بلل کېږي، د سربل او اسـتربل کار دا دی، چې دواړه له خپلواکې کلیمې څخه مخکې او وروســته راځي، خو د کلیمو په مانا کې کوم تغیر نه راولي، یواځې د یوې اړیکې لپاره کارول کېږي، څو د جملې مخکې او ورسته برخې سره ونښلوي، په پورته ولسي شعر کې هم د دې ناخپلواکو مورفیمونو په مرسته بیتونه سره نښلول شوي، چې مانا پیدا کړي. د پورته شعر په دویم بیت لومړی مسرہ کې شاعر د « **په**» په مرسته دوه برخې سره نښلوي لکه ( زه د مستی نه په هوا ځم- د مینې د نازه ډکه بې پروا ځم) او د «په» په مرســته اړیکه پیدا کوي. همدارنګه د شـعر په څلورم بیت لومړی مسرـه کې شــاعر د ( چې مې په نیم نظر کتلي- ببرته په حال نه دي راغلي) د «په» په مرسته اړیکه ټینګه شوې.

«**بې**» دا هم ناخپلواک مورفیم دی، چې د مورفولوژي له نظره ورته مختاړی ویل کېږي، د مختاړو دنده دا ده، چې له خپلواکو مورفیمونو څخه مخکې راځي اودکلیمې یا مورفیم په مانا کې تغیر راولي، شـاعر دلته« بې» مختاړي په مرسته دشعر په دویم بیت لومړی مسرہ ورستی برخه کې د (پروا) خپلواک مورفیم څخه مخکې راوړی او د یوې مانا څخه یې بله مانا چې( بې پروا) دی اړولې ده.

ketabton.com - The Digital Library



«**چې**» د پورته ولسي۔ شعر په دويم بيت لومړی مسره «چې عطر پورې په وربل کړم- د مينې اور په عاشق بل کړم» دريم بيت لومړی مسره ( چې مې په نيم نظر کتلي - بېرته په حال نه دي راغلي) او څلورم بيت دويمه مسره ( بينا ته وايم چې مې شرحه کړي نازونه) په دغو ټولو بيتونو کې « چې » د اړيکويکي دنده پرمخ وړې ده. يعنې د «چې» په مرسته دوه جملې سره نښلول شوي دي.

« **ته** » دا هم يو ناخپلواک مورفيم دی، په ځانله کومه مانا نلري، خو که د کليمو يا جملو سره يوځای شي، د هغوی په مانا کې بدلون راولي او يا يې مانا داره کوي ، شاعر دغه بيت کې ( چې مې په نيم نظر کتلي –بېر ته په حال نه دي راغلي). «ته» مورفيم د « مفعول» په مفهوم کارولی.

«**يې**» شاعر د خپل شعر په دريم بيت دويمه مسره کې وايي ( په زړه يې جوړ شي د وصال سوي داغونه). دلته « يې» عاشق لپاره ارجاع يا ځای ناستی شوی، يعنې د عاشق لپاره مخ ارجاع رامنځته شوې، څکه د همدې «يې» په مرسته عاشق ته بېرته اشاره شوې. موخه ترې عاشق دی.

«**دي**» په اصل کې مرستندويه فعل دی، چې په انگليسي-ژبه کې ورته ( Helping verb) هم ويل کېږي. دا مرستندويه فعل د فعلي ستاينوم په پای کې د نږدې ماضي د جوړولو له پاره راځي. د «دی» مورفيم اوړني تصريفي بڼه ده. د پورته شعر په دريم بيت لومړی مسره کې له همدې مرستندويه فعل څخه گټه اخيستل شوې لکه چې وايي ( چې مې په نيم نظر کتلي -- بېرته په حال نه دي راغلي).

| په ولسي شعر کې اوړني ( تصريفي) کلمې | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ویی | آره بڼه | حذف | ځای ناستی | زیاتوالی | ویی | آره بڼه | حذف | ځای ناستی | زیاتوالی |
| تورې | توره | ه | ې | | مينې | مينه | ه | ې | |
| ښځې | ښځه | ه | ې | | داغونه | داغ | | | ونه |
| تعويزونه | تعويز | | | ونه | کتلي | کتل | ي | | |
| نازه | ناز | ه | | | راغلي | راغلل | ل | ي | |
| ډکه | ډک | ه | | | بلوي | بل | و | ي | |
| خياله | خيال | ه | | | اورونه | اور | | | ونه |
| بړدمه | دبړدم | ه | | | نازونه | ناز | | | ونه |
| خالونه | خال | | | ونه | | | | | |
| پورې | پور | ې | | | | | | | |

**جدول ۴، په ولسي شعر کې اوښتي مورفيمونه**

که پورته جدول ته وکتل شي، د زياترو کليمو په آره بڼه کې بدلون راغلی دی، د پورتنيو کليمو آره بڼه خپلواک مورفيمونه دي او کوم وروستاړي يا ناخپلواک مورفيمونه چې د آرو بڼو څخه حذف او پر ځای يې نور روستاړي ځای شي، ناخپلواک مورفيمونه دي، خو کله چې په صرفي ژبني اوب کې خپلواک او ناخپلواک مورفيمونه سره يوځای کېږي ناخپلواک مورفيمونه هم مانا پيدا کوي، نو په صرفي ژبني اوب کې کليمې ځانگړو کلمو ته اوړون مومي او د اوړون په پايله کې د کلمو په آره بڼه کې بدلون، ځای ناستی او زياتوالی راښايي. دا بدلون به داسې وي، چې په پايله کې يې مانا لرونکي کلمې ترې جوړې شي، د ژبني اوب يوه ځانگړنه هم دا ده، چې عدد د معدود، صفت د موصوف، مضاف د مضاف اليه، مسند د مسندل اليه او نور سره په سمه توگه اوړون ومومي او په مانا کې يې خلل رامنځته نه شي.

ketabton.com - The Digital Library



| په ولسي شعر کې د مضاف او مضاف الیه سمون | | | |
|---|---|---|---|
| د اضافت ترکیب | د اضافت وییکي | مضاف | مضاف الیه |
| د مستۍ نه | د | مستۍ | نه |
| د نازه ډکه | د | نازه | ډکه |
| د خیاله ړدمه | د | خیاله | ړدمه |
| د مینې اور | د | مینې | اور |
| د وصال سوي | د | وصال | سوي |

**جدول ۵؛ په ولسي شعر کې اضافي ترکیبونه**

په پورته شعر کې «د» له خپلواکو مورفیمونو سره یوځای د نورو دندو ترڅنګ د اضافت ناخپلواک مورفیم په توګه هم دنده پر مخ وړي. په اضافي حالت کې مضاف الیه د اضافت د مورفیم له امله تصریفېږي.

| **په ولسي شعر کې د صفت او مصوف سمون** | | |
|---|---|---|
| ستاینومیز ترکیب | صفت | موضوف |
| تورې څنې | تورې | څنې |
| لنډۍ زنه | لنډۍ | زنه |
| نېشه دار تعویزونه | نېشه دار | تعویزونه |
| د مینې اور | مینه | اور |
| سوي داغونه | سوي | داغونه |
| نیم نظر | نظر | نیم |

**جدول٦، په ولسي شعر کې د صفت او موصوف ترکیبونه**

په پورته شعر کې چې کوم ستاینومیز ترکیبونه راغلي د صرفي ژبني اوب په مرسته په دې پوهېږو چې (تورې څنې) او (لنډۍ زنه) تورې څنې ډېرګړی ښځینه ترکیب او لنډۍ زنه یو ګړی ښځینه ترکیب دی، په پورته ټولو ترکیبونو کې موصوف له خپل صفت سره د جنس او عدد له پلوه سمون خوري.

| په ولسي شعر کې څو مانیزې کلیمې | | | |
|---|---|---|---|
| لغات | څو ماناوې | | |
| تورې | د تور رنګ په مانا | د غم یا ښکلا استعاري ستاینوم | |
| نېشه دار | مستونکی | جذاب | د مینې اغېز لرونکی |
| تعویزونه | د دعا کاغذونه | د ستاینې یا ښکلا سمبور | |
| هوا | فیزیکي هوا | خیال، جذبه | روحي لوړتیا |

ketabton.com - The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| خیال | تصور یا فکر | شاعرانه الهام | |
| خالونه | د مخ د ښکلا داغ | د ځانګړتیا یا پېژندنې نښه | |
| اور | فیزیکي اور | د مینې تود احساس | |
| دغونه | رخمونه | د عشق نښې | تهمت |
| نظر | کتل، اند | له نظره کول، د سترګو لګېدل | د زړه توجه یا مینه |

**جدول۷، په شعر کې ځو مانیزې کلمې**

په پورته ولسي ـ شعر کې ځو مانیزې کلمې هم کارول شوي دي او په جدول کې هم ښودل شوي، د شعر په لومړي بیت کې شاعر بېلابېلې ځومانیزې کلمې کارولي لکه چې وايي: لومړی بند

تورې مې ښنې نښه دار مې تعویزونه

خلک ماته لېونی وايي

(بینا، ۱۳۹۱ ل، ۹۰۳)

په پورته بیت کې (تورې، نښه دار، تعویزونه) کلیمې راوړل شوي، چې (تورې) په بېلابېلو ماناو لکه (تورې) د (تور) جمع بڼه ده، تور په دوو ماناو کارول کېږي، یو د نوم په ډول لکه (تور رنګ) دویم د ستاینوم په بڼه لکه په یو چا (تور / تهمت) لګول. د ستاینوم لپاره هم کارول کېږي لکه (احمد تورې جامې اغوستې) یا تورې جامې درسره ډېر خوند کوي. د دې ترڅنګ (تورې) د غم یا ښکلا استعاروي ستاینوم هم جوړوي. یعنې (تور) د غم لپاره هم کارول کېږي، په ځینې کلتورونو کې تور رنګ جامې د غم لپاره کارول کېږي.




**شکل۱، د تور د کلمې د مانا شننه**

**نښه دار:** دا کلیمه هم ځو ماناوې لري، د مار یا لړم د (نیش) لپاره هم کارول کېږي، لکه چې وايي (هلته ډېر غټ نیش دار مار پروت و)، یا هغه وګړی چې تخریبي او ورانونکي خبرې کوي هغې لپاره هم کارول کېږي لکه (کامران ډېرې نښه دارې خبرې کوي)، نیش د تېرې ځوکې یا تېغ لپاره هم کارول کېږي.

ketabton.com - The Digital Library






**شکل۲، د نېشه دار د کلمې د مانا شننه**

**تعویزونه:** په اســـلامي ټولنه کې د تعویز کارونه عامه خبره ده، په داســـې ټولنو کې چې خلک خپلې عقیدې د تعویز پورې تړي هلته له دې ډول کارونو کار اخیستل کېږي، تعویز کارونه په بېلابېلو مذهبونو کې بېلابېل اړخونه لري، دلته تعویزونه د تعویز ډېر ګړي بڼه ده، ځو ماناوې لري لکه: تعویز د ښه نیت او برکت لپاره کارول، لکه چې وایي (ماشوم ته د وېرې تعویزونه جوړ کړئ)، یعنې د وېرې څخه د خلاصون لپاره، د ګاڼې په بڼه هم کارول کېږي لکه (ناوې ته تعویزونه جوړ کړئ، چې سینګار شي)، د دم او دعا لپاره هم کارول کېږي، ترڅنګ یې په پښتنه ټولنه کې د مینې او ښکلا سمبول هم دی.




**شکل۳، د تعویز د کلمې د مانا شننه**

شاعر د خپل شعر په دویم بیت کې هم ځو مانیزې کلیمې کارولې دي لکه چې وایي:

زه د مستۍ نه په هوا ځم، د نازه ډکه بې پروا ځم

د خیاله ړدمه په لنډۍ زنه خالونه

(بینا، ۱۳۹۱ ل، ۹۰۳)

شاعر په خپل پورته بیت کې د (هوا، خیال، خالونه) کلیمې کارولې دي، دا کلیمې څومانیزې دي. د (هوا) کلیمه څو ماناوې لري، لکه چې وایي (نن هوا ډېره سـړه ده) یعنې د فیزیکي هوا لپاره کارول کېږي، د دې ترڅنګ هوا د (هوس/ خواهشـاتو) لپاره هم کارول کېږي، لکه چې وایي (

ketabton.com - The Digital Library



ځيني خلک ډېر هوا او هوس) لري، (هوا) د روحي لوړتيا لپاره هم کارول کېږي لکه (نن مي زړه ډېره هوا غواړي) همدارنګه (هوا) د جذبې لپاره هم کارول کېږي لکه (نن مې زړه کې د مستی هوا چلېږي)، د مينې لپاره هم کارول کېږي لکه (هوا يې نرۍ نرۍ زلفې وربولي).




*شکل۴، د هوا د کلمې د مانا شننه*

**خيال:** خيال هم بېلابېلې ماناوې لري لکه (خيال) د تصـــور کولو لپاره (هلکه ولې په خيال کې ډوب يې)، خيال د فکر لپاره هم کارول کېږي لکه: (زما په خيال نن به باران وشي)، ترخنګ يې د شاعرانه الهام لپاره هم د استعمال وړ ده.




*شکل۵، د خيال د کلمې د مانا شننه*

**خالونه:** خالونه د خال ډېر ګړې بنه ده. خال څومانيزه کليمه ده، خو هره مانا يې په خپل چاپيريال کې د تطبيق وړ ده. خال د داغ لپاره کارول کېږي (په مخ مې ډېر داغونه يا خالونه دي)، خال بيا د ځانګړتيا يا پېژندنې نښې لپاره هم کارول کېږي لکه (هغه هلک درته ښايم چې په مخ يې تور خالونه دي) د دې ترڅنګ (خال) د فيزيکي جسم لپاره هم کارول کېږي لکه (په کميس کې يې تور او شنه خالونه ټومبلي دي).



ketabton.com - The Digital Library



*شکل۶، د خالونه د کلمې د مانا شننه*

شاعر د خپل شعر په درېیم بیت کې هم څو مانیزې کلیمې کارولې دي چې لومړی یې بیت په لاندې ډول وړاندې کوو او بیا یې بر ماناو بحث کوو.

چې عطر پورې په وربل کړم، د مینې اور په عاشق بل کړم

په زړه یې جوړ شي د وصال سوي داغونه

(بینا، ۱۳۹۱ ل، ۹۰۳)

په پورته بیت کې هم شـــاعر څومانیزې کلیمې کارولې دي، هره مانا په خپل اوب یا ځای کې مانا ورکوي، لومړی کلیمه (اور) ده چې څو ماناوې لري. لومړی مانا یې فیزیکي اور دی، چې په هر کور کې د پخلي یا کور تودوني لپاره کارول کېږي، لکه (اور بل کړئ چې تاوده شـــو.) اور د مینې او محبت لپاره هم کارول کېږي (په ما یې د مینې اور بل کړ)، د دې ترڅنګ د (اور) کلیمه د حسد لپاره هم کارول کېږي (په هارون اور بل شو چې ما ولې موټر واخیست؟) د (اور) کلیمه په متلونو کې هم خپله مانا لري لکه (سوزي هغه ځای چې اور پرې بل) وي یعنې د غم لپاره هم کارول کېږي.




**شکل۷، د اور د کلمې د مانا شننه**

**داغونه:** داغونه د داغ جمع یا ډېرګړې بڼه د. داغ څومانیزه کلیمه ده. (داغ) د زخم په مانا هم کارول کېږي لکه (زما په لاس ډېر داغونه دي)، داغ د تهمت په مانا هم راغلې لکه (په خلکو بې ځایه داغونه مه لګوه)، داغ د مینې او عشق د نښې په مانا هم کارول کېږي لکه (په زړه مې د مینې داغونه دي).




*شکل۸، د داغونه د کلمې د مانا شننه*

شاعر د خپل شعر په څلورم بیت کې هم څو مانیزې کلیمې کارولې دي چې لومړی یې بیت او بیا یې څومانیزې کلیمې څرګندوو.

چې مې په نیم نظر کتلې، بېرته په حال نه دي راغلي

ناز او مکېز مې بلوې په زړه اورونه

(بینا، ۱۳۹۱ ل، ۹۰۳)

ketabton.com - The Digital Library



په پورته بیت کې شاعر د (نظر) کلیمه کارولې چې څو ماناوې لري. لومړی مانا يې د (دید یا کتل) دي، لکه چې وايي (په لاره سم څه نظر دې کار نه کوي)، بله مانا يې یو چا ته د ضرر رسول دي لکه (د هارون نظر ډېر تیز دی له نظره به دې کړي)، یعني د سترګور سړي لپاره هم کارول کېږي، نظر کلیمه د اند او فکر په مانا هم کارول کېږي لکه (ته د اوسنیو حالتو په اړه څه نظر لري.) همدارنګه نظر د مینې د توجو لپاره یا د ناز نخرو لپاره هم کارول کېږي لکه (هغې په یو نظر لیونی کړم).




*شکل۹، د نظر د کلمې د مانا شننه*

**د ننګرهار په ولسي شاعرۍ کې د فرهنګي اوب شننه**

"فرهنګي اوب" هغه ټولنیز، تاریخي او کلتوري چاپېریال ته اشاره کوي، چې په هغه کې یو څه تجربه کیږي. په فرهنګي اوب کې د یوې ځانګړې ټولنې یا ډلې عقیدې، دودونه، ارزښتونه او عملونه شامل دي. د فرهنګي اوب پوهېدل د هنر، ادبیاتو، رسنیو او اړیکو د مختلفو بڼو تشریح او تحلیل لپاره او همدارنګه د کلتوري اړیکو د ساتلو او د مختلفو ټولنو په باریکیو پوهېدو لپاره مهم دي. فرهنګي اوب هغه اوب ته ویل کېږي، چې انسانان په کې له نورو سره اړیکه ټینګوي. (آر، ام، ۱۹۷۴م، ۷۳)

شاعر د خپلې شاعرۍ په دایره کې ټول اوبونه رانغاړي. د ننګرهار ولسي شاعري هم له ژور فرهنګي اوب ډکه ده، دا ځکه، چې د پښتني ټولنې د ورځنۍ ژوند، د ښځو دودیز فعالیتونه، د ښکلا تصور او د ټولنیزو اړیکو ډېرو پخوانیو بڼو ته اشاره پکې شوې ده. همدې اړیکو ته په کتلو په لاندې شعر کې فرهنګي اوبونه په بشپړ ډول پلټل شوي او دلته به وړاندې شي.

**چاربیته**

د مازیګر اوبو له ځي کمیس يې شین دی

خال يې په جبین دی

دا سور پیزوان يې جړاو کړی په تابین دی

ښه پاچا د چین دی

د سپرو میره در وتلې په اختر باندې

ناسته په ګودر باندې

ketabton.com - The Digital Library



د پورته ولسيـ شعر په لومړي بند کې د گودر او مازيگر خبره شوې، پښتنه ټولنه په يو لوی کتلوري يا فرهنگي اوب کې ژوند کوي، په لومړي بند کې (د مازيگر اوبه او گودر ) هغه فرهنگي اوب دی، چې له مخې يې موقعيت او فرهنگ دواړه څرگندېږي. شاعر په خپل شعر کې داسې کلمې کارولي، چې د اړوند موقعيت، فرهنگ، حالاتو او مهال څخه متاثرې دي. په پورته ولسي شعر کې کلماتو ته په کتلو فرهنگي اوب ټاکلی شو.

د مازيگر اوبو له ځی څه په هنر باندې

ناسته په گودر باندې

( الفت، ۱۳۴۲ ، ۷۷۲)

د گودر او مازيگر اوبو کلتوري ارزښت: گودر د پښتني کليوالي ژوند يو مهم فرهنگي ځای دی، چيرې چې ښځې د اوبو لپاره ورځي، خبرې کوي، سندرې وايي او يو ډول ټولنيز تعامل ترسره کوي. په شعر کې "گودر" د ښځو د ټولنيز ژوند، ښکلا، مستی او عاطفې نښه ده. همدا گودر د نجونو لپاره د دمې او ناستې ځای دی، په اکثره کليوالي سيمو کې اوس هم د گودر ذکر شته، نجونې هر مازيگر ډله ډله منگي په ترخ، نری نری زمزې کوي او د گودر په لور روانې وي، هلته د زړه خوالې او د خپل راتلونکي ژوند په اړه تخيلي مانۍ جوړوي. نجونې اکثره د مازيگر په وخت کې گودر ته ځي ځکه، چې مازيگر د آرام، سکون او ښکلا وخت گڼل کېږي. د " مازيگر اوبه" ترکيب د طبيعي ښکلا او د وخت د شاعرانه ارزښت استازيتوب کوي. په اسلامي لحاظ هم مازيگر بختور او د برکتونو وخت گڼل کېږي، ويل کېږي چې د مازيگر د لمانځه احتمام بايد ښه وشي، ځکه دغه وخت ډېر ښه او بختور دی، نو شاعر هم په خپل شعر کې د گودر او مازيگر يادونه کړې، په دې کې يې پښتني کلتوري ارزښتونه او اوبونه رانغاړلي دي، دا چې موقعيتي او فرهنگي اوبونه سره نږدې دي، نو گودر د موقعيت اوب هم گڼل کېږي.

د مازيگر اوبو له ځي کميس يې شين دی

خال يې په جبين دی

دا سور پيزوان يې جړاو کړی په تابين دی

ښه پاچا د چين دی

د سپرو ميره در وتلې په اختر باندې

ناسته په گودر باندې

( الفت، ۱۳۴۲ ل، ۷۷۲)

شاعر په دويم بند کې بيا د مازيگر د اوبو ترڅنگ ځيني نور فرهنگي اړخونه هم يادوي، په پښتنه ټولنه کې د ښځو او نجونو لپاره د شين کميس، په جبين خالونه او په پوزه پيزوان دا ټول د سينگار توکي دي، کله چې کومه پښتنه نجلۍ وادېږي، شين کميس، رانجه، خالونه او پيزوان يې د سينگار لپاره کارول کېږي، په فرهنگي اوب کې دوديز کالي او سينگار ډېر د ارزښت وړ وي، دلته د (سور پيزوان) خبره هم شوې، دا په اصل کې د سرو زرو پيزوان دی، پيزوان د پښتني فرهنگ غښتلی ارزښت دی، ستاينه به د هغې نجلۍ زيات وه، چې پوزه به يې دنگه لوړه وه او پيزوان به يې پرې سپور کړی و، دلته د پيزوان جړاو او د چين پاچا خبره هم شوې، د دې خبرې مطلب دا دی، چې هغه پېغله چې د سرو زرو پيزوان يې په

ketabton.com - The Digital Library



پوزه وي، لکه د پيغلو ميره او مشره په ډله کې تر ټولو مخکې مخکې گودر ته روانه وي، ځان داسې گڼي لکه دا چې د شهزادگۍ وي، د پاچاهۍ دعوداره وي، په نورو نجونو ځان غوره گڼي، چې شاعر هم په ډېر هنر دا خبره په خپل فرهنگي او موقعيتي چاپيريال کې انځور کړې ده.

د مازيگر اوبو له ځي پيکى شانه کاندي

زلفې جانانه کاندي

رانجه راواخلي سترگې تورې په آينه کاندي

ځي اوبه بانه کاندي

دا غړۍ دار منگى يې ايښى وي په سر باندې

ناسته په گودر باندې

( الفت، ۱۳۴۲ ل، ۷۷۲)

شاعر په پورته بند کې «پيکى» هم ياد کړى. پيکى په پښتنه ټولنه کې د ښکلا، ناز او نخرو ډېر ښکلى سمبول دى، هغه نجونې چې ښکلى پيکى لري او پر مخ يې نيم پرېښى وي، نو په ټولنه کې د خلکو پام ځانله راگرځوي، کله چې نجونې مازيگر گودر ته ځي او پيکى يې پرمخ نيم پروت وي، په ناز څنډ ورکړي، نو دغه حالت د خاص کيف او خوند وي، پيکى، زلفې، رانجه، آينه، سترگې، غړۍ دار منگى دا ټول هغه څه دي، چې په پښتنه فرهنگي ټولنه کې خپل موقعيت ټاکي، دا ټول د فرهنگي اوب توکي دي، چې شاعر په ډېر هنر په خپل شعر کې ځاى کړي دي.

تور لونگين سپينه غاړه کې راخپور دى

پاس په سينه سپور دى

د کڅورې مزى يې زانگي په ټټر باندې

ناسته په گودر باندې

( الفت، ۱۳۴۲ ل، ۷۷۲)

شاعر په پورته بند کې تور لونگين د پښتنې ټولنې يو فرهنگي ارزښت گڼلى، کله چې نجونې له لونگو تور لونگين جوړ کړي او په سپينه سينه يا غاړه يې راخپور کړي، په دې وخت کې خلک د لونگ له خوشبوى او ښکلا څخه نور هم خوند اخلي. دلته لونگين هم په فرهنگي اوب کې د ځانگړي ارزښت وړ گڼل کېږي.

د مازيگر اوبو له ځي ښه پټه دار لري

شين کميس گلدار لري

بل پروت په غاړه کې د لکو روپو هار لري

ketabton.com - The Digital Library



ښه سینه گلزار لري

گل احمد ناست دی بادوي خاورې په سر باندې

ناسته په گودر باندې

(الفت، ۱۳۴۲ ل، ۷۷۲)

شاعر د خپل شعر په وروستي بیت کې وایي، چې د مازیگر اوبو له ځي او ښه ښکلی شین کمیس چې گلان یې  پرې ټومبلي دي، د دې ترځنگ د لکونو روپو د سروزور ښار یې هم په غاړه دی، شاعر چې دا هر څه ویني او په نصیب یې نه شي، نو بیا خاورې په سر بادوي، په پښتنه ټولنه کې هار د لوړ فرهنگي ارزښت وړ دی او فرهنگي اوب جوړوي، البته د یادونې وړ ده، چې ټول فرهنگي اوبونه حتمآ په موقعیتي اوب کې واقع کېږي. دا ټول د ښځې د ښایست او د هغې د ارزښت، د ویاړ او ښایست ښکارندویي کوي. د "لکو روپو هار" د شتمنی او ښکلا د گڼه سمبول په توگه راغلی. دا د پښتني ولسي ادب یو اصل دی، چې ښځینه کرکټر د طبیعي، سپېڅلي او ښکلي مخلوق په توگه انځوروي. په ټول شعر کې د "گودر، مازیگر، سینگار، سپاره او عاشق  یادونه د «پښتني کلتور د گډو ارزښتونو» انځور وړاندې کوي. د پورته شعر فرهنگي جدول په لاندې ډول دی.




*شکل ۱۰، د فرهنگي اوب ځېرنه*

**پایله**

اوب د ژبني، موقعیتي او فرهنگي چاپېریال ترمنځ د اړیکې هغه پل دی، چې د معنا د لېږد او د لوسـتونکي د پوهاوي بهیر بشـپړوي. په ځانگړي ډول د ننگرهار ولسي-شـاعري، چې د ولس د ژوند، دودونو، فرهنگي ارزښـتونو او احسـاسـاتو ژبه ده، د فرهنگي او موقعیتي اوب څرگندې نښې لري. د دغې سیمې شاعران د خپل کلتوري چاپېریال استازي دي، ځکه د هغوی اشعار د خپلو خلکو د فکري، عاطفي او ټولنیزو تجربو ژوندي انځورونه وړاندې کوي. په ولسي-شـاعرۍ کې فرهنگي اوب د معنا جوړونې هغه فضـا برابروي، چې له مخې یې کلمه یوازې لغوي ارزښـت نه، بلکې د ټولنې د باورونو او دودونو پر بنسـټ ځانگړې مانا رامنځته کوي. له همدې امله، د ولسي-شاعرۍ ژبه له فرهنگي او موقعیتي اړخه غني ده، او دا د دې ښکاره ثبوت دی، چې د ژبې شننه پرته له اوب څخه ممکنه نه ده.

ketabton.com - The Digital Library



**اخځلیکونه**


بينا، ســيد محمد طاهر.( ۱۳۹۱ لمريز). خولې نه مې قســم ختلی دی، دويم ټوک، د لال پاچا ازمون په زيار، دانش خپرندويه ټولنې تخنيکي ځانگه، کابل.

حميدزی، راحله.( ۱۳۹۸ل). گذار از مقوله و ميزان به دستور نقش گرای نظام مند هاليدی، کابلستان: کابل.

شاهد، سميع الله. ( ۱۴۰۳ لمريز). د هاليډي د چاروالې نظريې پر بنسټ د اوب څېړنه، سمون خپرندويه ټولنه- کابل.

شاهد، سميع الله.( ۱۴۰۲ل). د هاليډې د چاروالې نظريې پر بنسټ د اوب څېړنه، ماستری تيزس .

ښکلی، اجمل. ( ۱۴۰۱ل). د ژبپوهنې نظريې، پکتوس خپرندويه ټولنه. : کابل.

الفت، گل پاچا.( ۱۳۴۲ لمريز). پښتانه شعراء دريم توک، د پښتو ټولنې د تاريخ او ادبياتو څانگه- کابل

هېوادمل، زلمی.( ۱۴۰۲ل). د افغانستان د فرهنگ تاريخ، د دوکتورا برنامې لکچر نوټ.

Kessing, R. M. (1974). Theories of Culture. In B. J. Siegel (Ed.).

Rosenberg, M. (2011, March 2). China's One Child Policy: One Child Policy in China Designed to Limit Population Growth.

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*